# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

قــوه قضائیه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یک شنبه ۱۵ لړم ۱۴۰۱ هـ ش | ۱۱ ربیع الثانی ۱۴۴۴ هـ ق | ۶ نومبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمیره (۲۰)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي تفتيش پلاوي د بدخشان او تخار ولايتونو له محاکمو ليدنه وکړه




د سترې محکمې د محترم مقام په اجازه د قضائي تفتيش محترم رياست لخوا د بدخشان او تخار ولايتونو د محاکمو د قضائي پلټنې په موخه د ياد رياست د قضائي مسلکي مفتيشينو څخه جوړ اووه کسيز پلاوي ته دنده و سپارل شوه چې د يادو ولايتونو د محاکمو قضائي پلټنه ترسره کړي، په همدې موخه ياد پلاوي د ۱٤٤٤ کال د صفر المظفر مياشتې په ۱۹مه بدخشان او تخار ولايتونو ته سفر پيل کړ.

د سترې محکمې د قضائي تفتيش ياد پلاوي د (۱۵) ورځني سفر په لومړي پړاو کې تخار ولايت ته سفر وکړ.

**تخار ولايت ته سفر:**

د سترې محکمې دغه قضائي پلاوي د تخار ولايت د مرافعه محکمې په مقر کې د يادې محکمې د رئيس مولوي محمد صابر په موجوديت کې د دغه ولايت د ښهري محکمې د رئيس، د يادې محکمې د عامه امنيت ديوان له رئيس او د جزاء ديوان له رئيس سره ناسته وکړه.

په دې ناسته کې د تخار ولايت د ښهري محاکمو اړوند هغو بنديانو په اړه تفصيلي پلټنه وشوه چې لېست يې د سترې محکمې د مقام لخوا د سترې محکمې د تفتيش رياست ته راجع شوی وو او په اړه يې د پلټنې سپارښتنه شوې وه. په دې ناسته کې د يادې موضوع اړوند له مربوطه مراجعو څخه لازم اطمينان ترلاسه شو.

**بدخشان ولايت ته سفر:**

د سترې محکمې ياد قضائي پلاوي بدخشان ولايت ته د سفر پر مهال د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس مولوي شمس الله (عزيزي) سره ناسته وکړه، ورپسې يې د پلان مطابق د (۲٦) ولسواليو له شرعي محاکمو، د مرکز فيض آباد د ښهري محکمې رياست اړوند ديوانونو، د استيناف له ديوانونو، مرکزي زندان، د قوماندانۍ له محبس او د مرافعه محکمې رياست تفتيش ترسره کړ.

پاتې برخه ۲

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۴**

**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۱۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس محترم شيخ عبدالحکيم «حقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د اعضاوو په ګډون په تاريخ ۱۴۴۴/۲/۲۴هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د سنبلې مياشتې د ديرشمې (۳۰) نېټې سره سمون خوري، د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د ياد مجلس په آجنډا کې دربيمه موضوع داسې وه: ((د امارتي ځمکو د غصب څخه د مخنيوي په باره کې محاکم څرنګه اجراآت وکړي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۶) مورخ ۱۴۴۴/۲/۲۴هـ ق د دربيمې پرېکړې په اساس، د پورته ذکر شوې موضوع په اړه داسې هدايت وکړ:

((د ځمکې دعوه چې کله محکمې ته راشي محکمه به اولاً د قضاياى امارت رياست څخه د مدعی بها ځمکې په باره کې په تحريري ډول معلومات غواړي او دا اطمينان به حاصلوي چې مدعی بها ځمکه خو به امارتي نه وي، کله چې دا معلومه شوه چې ځمکه امارتي نه ده، محکمه دې په موضوع کې شرعي فيصله وکړي او که ځمکه امارتي ثابته شوه، په دې صورت کې دې د امارتي ځمکې د غصب څخه د مخنيوي په باره کې اصولي اجراآت ترسره شي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصويب دربيمه پرېکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تميزونو ديوانونو مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شوه ترڅو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې ترسره شي.

پاتې برخه ۳

**اسلامي حکومت**

**دويمه برخه:**

۳ـ د مدني قوانينو شتون: اسلام د قضاء عام اصول او مبادي بيان کړي دي، د نور تفصيل لپاره مجتهدينو ته واک ورکړل شوی دی ترڅو د عام مصلحت پر بنياد د قاعدې او پرېکړې وضع وکړي.

۴ـ مساوي پرېکړې به کېږي: د اسلامي دولت د واک له نبنو څخه دا دی چې د رئيس او عام وګړي ترمنځ به يو ډول پرېکړه کېږي. په دې اړه الله تعالی د سورت النساء په ۱۳۵ آيت کې فرمايي:

ژباړه: اې مؤمنانو! د عدالت علمبرداران او د خدای لپاره شاهدان واوسئ که څه هم چې ستاسې د عدالت کولو او شاهدۍ زيان په خپله تاسې يا ستاسې مور او پلار يا ستاسې خپلو خپلوانو ته هم راجع کېږي. د معاملې لورى که شتمن وي او که بېوزله، الله (جل جلاله) ستاسې څخه زيات د هغه خيرغوښتونکی دی. نو په دې اساس د خپلو نفسي غوښتنو د پيروۍ له امله عدالت مه پرېږدئ. او که تاسې ګډې وډې وواياست يا له رښتيا ويلو څخه ډډه وکړئ، نو وپوهېږئ تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

اخذليک: تتمة النظام، ۱۲ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د قضائي...

د دې لیدنې په دوران کې د یادو محاکمو اړوند قضائي اواداري چارې وڅېړل شوې، د محاکمو د اداري جوړښت، کاري ترتیب، قضائي خدماتو، د کارکوونکو معرفت او کاري ظرفیت، خپل منځي کاري همغږي، کاري حجم، کاري چټکتیا، د تحریراتو شفافیت، کاري مهال وېش، د کاري بهیر پر وړاندې شته خنډونو، بشري، لوژستیکي او تخنیکي مشکلاتو، له مراجعینو او بندیانو سره د اداري او اخلاقي چلند او وظیفوي برخورد په اړه بشپړه پلټنه ترسره شوه.

د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو څخه د یادو چارو په اړه پوره معلومات وشول او د محاکمو اړوند وسایلو او اجناسو او ملکیتونو څېړنه وشوه او لېستونه یې چمتو شول.

د سترې محکمې د قضائي تفتیش د یاد پلاوي لخوا په اداري او قضائي برخو کې د شته مشکلاتو په اړه لازمې لارښوونې وشوې او هغوی یې لا نورهم خپلو دندو ته تشویق او متوجه کړل، د چارو د سمون په برخه کې یې ورته ګټوري مشورې ورکړې او د ستونزو د حل لپاره یې ورسره ژمنه وکړه د دوی موجوده ستونزې به د سترې محکمې محترم مقام سره د راپور په بڼه شریکوي.

دغه راز د قضائي تفتیش د یاد پلاوي لخوا د محاکمو له قضائي غړو څخه د کاري ظرفیت معلومولو په هدف تقریري ازموینه واخیستل شوه.

دغه راز په ځینو محاکمو کې له مراجعینو سره لیدنه وشوه او د محاکمو د خدماتو په اړه د هغوی نظرونه واورېدل شول، د تفتیش په دغه بهیر کې د بدخشان په ولایتي زندان او د قوماندانۍ په محلي زندان کې د ۹۱ نارینه، ۱٤ ښځو او پنځو ماشومانو بندیانو تفصیلي تفتیش ترسره شو او د بندیانو د برخلیک په اړه معلومات وشول.

د یادو قضائي ارګانونو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو لخوا د قضائي تفتیش د یاد پلاوي هرکلی وشو، د دغه پلاوي له صمیمانه او نرم چلند څخه یې خوښي څرګنده کړه او د تفتیش ریاست د تفتیش دغه بهیر یې د معیاري شرعي محاکمو رامنځته کولو پر لوري اغېزمن ګام وباله.

## ننګرهار مرافعه محکمه کې د دغه ولایت د ۱۱ ولسوالیو قضاتو ته یو ورځنی سیمینار جوړ شو

د چهارشنبې په ورځ (۱٤٤٤/۳/۲۳) نېټه د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې د رئیس شیخ محمد ګلاب (فاروقي) په نوښت د محاکمو د رهنمود د فیصلو د اصلاح په خاطر د یاد ولایت د ۱۱ ولسوالیو محاکمو قاضي صاحبانو ته یو ورځنی سیمینار جوړ شو.

دغه سیمینار د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شو؛ وروسته د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ محمد ګلاب (فاروقي) قضاتو ته تر هرکلي وروسته خپله عالمانه وینا وکړه، د قضاتو اهمیت یې بیان کړ.

په دغه سیمینار کې د ننګرهار ولایت د ۱۱ ولسوالیو (لعل پوره، نازیان، اچین، سپین غر، غني خېل، کوټ، بټي کوټ، بهسود، چپرهار، ګوشته او کامې) د محاکمو قضاتو او مفتي صاحبانو ګډون درلود.

یاد سیمینار د مرافعه محکمې د رئیس په مشرۍ د ننګرهار ولایت د ښاري محکمې رئیس مولوي امان الله (حقاني) او د مرافعه محکمې د مدني دېوان رئیس مفتي نورالحق (حقاني) په همکارۍ ترسره شو.

په دغه سیمینار کې قضاتو ته د ښه سلوک، کارونو ته د توجه او له مراجعینو سره د غوره چلند توصیه وشوه.

دغه راز په سیمینار کې د هرې محکمې دوسیې او فیصلې چې قضاتو کړې وې وکتل شوې، قضیو ته په ښه او مناسب ډول د رسېدو په موخه قضاتو ته د محاکمو د اصولو مطابق لارښوونې وشوې او هر یو یې خپلو مسؤولیتونو ته متوجه کړ.

پر دې سربېره په یاد سیمینار کې حاضرینو ته د فیصلو د قانوني لیکلو او د موضوعاتو پر وخت خلاصېدو هدایت وشو.

دغه سیمینار د محاکمو د رهنمود د فیصلو د اصلاح په خاطر ترتیب شوی وو ذکرشوی سیمینار چې د سهار په نهو بجو شروع ترڅلورنیمو بجوپورې یې دوام وکړ د مرافعه محکمې رئیس په دعائیه پای ته ورسیده .

## گزارش جلسه و بازدید از دفاتر آمریت وثایق و محکمه ابتدائیه شهری پروان

به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۲۲ هـ ق محترم شیخ القرآن والحدیث محمد قسیم «محمدی» رئیس محکمهٔ استیناف پروان از دفاتر کاری آمریت ثبت اسناد وثایق و محکمه شهری پروان بازدید به عمل آورد.

همچنان رئیس محکمهٔ استیناف پروان حین بازدید از محاکم فوق الذکر در تالار محکمهٔ ابتدائیه شهری آن ولایت با پرسونل قضائی و اداری نشست اداری را تدویر کرد.

در این نشست که محترم مولوی محمد حسن آمرثبت اسناد وثایق ومخزن، محترم مولوی نورالله «حماد» رئیس محکمهٔ شهری، پرسونل قضائی و اداری آمریت وثایق و دواوین محکمهٔ شهری و مسؤول طب عدلی در آن اشتراک ورزیده بودند؛ در نخست آیات چندی از کلام الهی توسط مولوی فخرالدین عضو محرر دیوان مدنی محکمهٔ شهری تلاوت شد؛ سپس محترم «محمدی» رئیس محکمهٔ استیناف روی موارد ذیل صحبت نمود.

۱. پرسونل محاکم باید با مراجعین و اصحاب دعوی رویهٔ حسنه داشته باشند.

۲. مفتی‌ها و محررین نمی توانند بدون اجازه و هماهنگی با رئیس شان، زندانی را ازمحبس طلب و اجراآت خود سرانه انجام نمایند.

۳. در وقت رسمیات باید جداً سلوک قضائی و اداری در نظر گرفته شود.

٤. دوسیه‌های که به دیوان‌های مربوطه وارد می‌شود؛ در اسرع وقت به آن رسیده‌گی صورت گیرد.

٥. آمریت ثبت اسناد وثایق ومخزن متحدالمآل‌های شماره (۱) مورخ ۱٤٤٤/۱/۹، (۷) مورخ ۱٤٤٤/۱/۲٥، (۱٤) مورخ ۱٤٤٤/۲/٤ وغیره فرامین و متحدالمآل‌های که از طرف مقام عالی ستره محکمه ا. ا. افغانستان مواصلت می‌ورزد معیار عمل خویش قرار دهند.

٦. عدم اخذ مطالبه پول بخاطر ترتیب وثایق مختلف النوع.

۷. استعلام‌های که به مسؤولان طب عدلی رسماً فرستاده میشود، در قسمت آن توجه جدی نموده و با درک مسؤولیت معلومات ارایه بدارند. و همچنان مواردی محرم (پوشیده) را به شکل محرم دوباره به محاکم بفرستند، باید تعلل صورت نگیرد.

در اخیر جلسه مشکلات و پیشنهادات محاکم مذکور استماع و یادداشت گردید تا به آن رسیده‌گی صورت گیرد و جلسه با دعائیه خیر به پایان رسید.

## د ارزګان د مرافعه محکمې رئیس د دغه ولایت د چوري ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

په ۱٤٤٤/۳/۲۷ هـ ق د ارزګان ولایت د استیناف محکمې رئیس شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) د دغه ولایت د چوري ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه .

د استیناف محکمې محترم رئیس په دې لیدنه کې د چوري ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې قاضي، مفتي او محرر تر هرکلي وروسته وویل، له مراجعینو (مدعی او مدعی علیه) سره د اصولو پر بناء قانوني او عادلانه چلند وکړئ، د محکمې د مراجعینو سره د ملاقات طرزالعمل ترتیب کړئ ترڅو د مراجعینو ستونزې په خپل وخت سره حل شي.

د استیناف محکمې رئیس شیخ مولوي سخیداد (ابوالتقي) د ابتدائیه محکمې پرېکړه د لوړو محاکمو لپاره بنیاد وباله، قاضي، مفتي او محرر ته یې سپارښتنه وکړه چې د دعوی اړخونو، صورت دعوی، دفع الدعوه او د دوسیې اوراق په دقیق ډول ولولي او هره دوسیه په دقیق ډول وڅېړي.

د استیناف محکمې رئیس په دې لیدنه کې د یادې ولسوالۍ قاضي،مفتي او محرر ته د خپلو کارونو د ښه ترسره کولو لپاره لازم هدایات وکړل وویل، عرایضو ته دې په ټاکلي وخت رسېدنه وشي، د خلق الله کارونه دې په شفاف ډول په خپل وخت کې حل او فصل شي.

د استیناف محکمې رئیس په دې لیدنه کې ګډونوالو ته وویل چې د ولسوالۍ له نورو چارواکو سره نېک برخورد وکړي، ترڅو د اسلامي امارت نظام قوي او متحد پاته شي، د یادې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس او مفتي د مرافعه محکمې له رئیس سره ژمنه وکړه چې ان شاء الله ستاسو ټولې خبرې او سپارښتنې به عملي کوو ، خپل قضائي امور به په صداقت او ریښتنولی سره ترسره کوو .

په همدی نېټه د ارزګان ولایت د استیناف محکمې رئیس او یادې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس او مفتي د دوو قومونو ترمنځ د یوې نوې ویالې پرسرد رامنځته شوي جنجال څخه هیئتي وکړه، له دواړو لوریو یې پوښتنې وکړې او اسنادونه یې وکتل.

د استیناف محکمې رئیس طرفینو ته ډاډ ورکړ چې ترمنځ به یې ژر تر ژره فیصله کوي او د یادې ولسوالۍ قاضي او مفتي ته یې هدایت وکړ چې فیصله یې ور وکړي ترڅو د دواړو قومونو ترمنځ رامنځته شوې ستونزه حل شي .

## جلسهٔ اداری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان

جلسهٔ متذکره به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۲۱ به اشتراک تمام رؤسا، قضات دیوان‌های محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ مرافعه و قضات آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن تحت ریاست مولوی شمس الله «عزیزی» رئیس محکمهٔ مرافعه دایر گردید.

نخست جلسه با تلاوت آیات چندی از کلام الله مجید آغاز شد؛ سپس روی موضوعات شامل آجندای جلسه که قبلاً ترتیب و تهیه گردیده بود هر کدام بالنوبه مورد بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

۱ ـ محترم مولوی شمس الله «عزیزی»رئیس محکمهٔ مرافعهٔ بدخشان راجع به اهمیت برگزاری جلسات اداری غرض حل چالش‌های اجراآت یومیه صحبت مفصل نمودند.

۲ ـ خود داری از رخصتی‌های خود سرانه (هیچ یکی بدون اجازهٔ رئیس محکمه مرافعه بدخشان وظایف محوله خود را ترک ننمایند؛) در صورت تخلف با ایشان برخورد قانونی صورت خواهد گرفت

۳ـ در برابر حاضری همگی یکسان میباشند.

٤ ـ خود داری از رخصتی های اضافه میعاد.

٥ ـ پرسونل قضائی، اداری و خدماتی محاکم اوقات رسمی کاری را جداً رعایت نمایند.

٦ ـ جلوگیری از مهلت دادن طولانی برای مراجعین.

۷ـ تطبیق موضوعات مطروحه سمینار ده روزه در ساحه عمل .

۸ـ غرض صرفه جویی برق، گروپ ها، بایلر و سایر وسائل برقی در اوقات غیر رسمی مسدود شود.

۹ـ خود اری از مهمان نوازی‌ها در اوقات رسمی.

۱۰ ـ تسریع در روند بررسی دوسیه‌ها.

۱۱ ـ دیوان منسوبین نظامی نیز در تشکیل محکمه ابتدائیه شهری فعال شده و قضات آن دیوان آغاز به کار کردند؛ لله الحمد مشکل منسوبین نظامی حل شد.

در اخیر مشارکین جلسه وعده سپردند که موارد فوق را در اوقات رسمی جداً رعایت می‌نمایند.

و جلسه با کلمات دعائیه توسط رئیس دیوان منسوبین نظامی خاتمه یافت.

## گزارش از سفر رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فراه به محکمه ابتدائیه ولسوالی اناردره

به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۱۳ هـ ق الحاج مولوی محمد گل «صیاد» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فراه غرض بازدید و نظارت از اجراآت محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی اناردره به آن ولسوالی سفر نمود.

محترم الحاج مولوی محمد گل «صیاد» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت فراه در جریان این سفر بعد از استماع مشکلات مردم و پرسونل محکمهٔ متذکره؛ جهت رفع چالش‌ها و مشکلات و رسیده‌گی عادلانه و سریع قضایا برای مسؤولان محکمهٔ فوق الذکر توصیه‌ها و رهنمائی‌های لازم کرد و به تاریخ ۱٤٤٤/۳/۱٤ هـ ق دوباره عازم مرکز ولایت گردید.

## د هلمند استیناف محکمه کې په ښهري او د ولسوالیو په محاکمو کې د قاضیانو د تبدیلۍ په مناسبت غونډه ترسره شوه

د هلمند ولایت د استیناف محکمې دغونډو په تالارکې د روان ۱٤٤٤هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په ٢٦ مه نېټه د یادې محکمې د رئیس (ابوسعید الغزنوي) په مشرۍ د جنوب غرب زون د تمییز عالي مقام او د سترې محکمې د قضائي معاونیت لخوا په ښهري او د ولسوالیو په محاکمو کې د قاضیانو د تبدیلۍ په مناسبت غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د استیناف او ښهري محکمې د دیوانونو پر رئیسانو او مفتي صاحبانو سربېره د نوزاد، ګرشک، باباجي، مارجې او نادعلي ولسوالیو د محاکمو قاضیانو او مفتي صاحبانو ګډون کړی و.

غونډه د کلام الله مجید د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس او مفتي ګډونوالو ته تفصیلي خبرې وکړې وویل، اسلامي نظام د الله (جل جلاله) له لوري ستر نعمت دی، او د الله (جل جلاله) د دغه نعمت شکرانه اداء کول زموږ ټولو مسؤولیت او وجیبه ده.

دغه راز د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس د غونډې ګډونوال د آمر اطاعت ته وهڅول.

ورپسې د استیناف محکمې رئیس د غونډې ګډونوالو ته هر اړخیزه وینا وکړه او زیاته یې کړه چې موږ او تاسو به د خپلو مشرانو اطاعت کوو؛ ځکه زموږ او تاسو دنیوي او اخروي کامیابي د آمراوو په اطاعت کې ده.

نوموړي د غونډې ګډونوالو ته په خطاب کې وویل، د شرعي احکامو تنفیذ او تطبیق د ټولنې د بقا لپاره خورا مهم او اړین دی.

د استیناف محکمې رئیس د خپلو خبرو په دوران کې حاضرین د قضاء په چارو کې عدالت ته وهڅول او زیاته یې کړه چې موږ او تاسو باید د خلکو د موضوعاتو په حل او فصل کې غور، دقت او عدالت وکړو.

دغه راز محترم ابوسعید الغزنوي وویل، موږ او تاسو په عظیمه ابتلاء کې واقع شوي یو، نو باید له غرور او تکبر څخه ځانونه وساتو او د خلکو د موضوعاتو په حل او فصل کې پوره احتیاط وکړو؛ ترڅو د الله (جل جلاله) په مسؤولیت کې واقع نشو.

دغه راز نوموړي د غونډې ګډونوالو ته توصیه وکړه چې له مراجعینو سره ښه چلند کوئ، د هغوی موضوعات حل او فصل کړي او زیاته یې کړه، چې دې ملت شل کاله په جهادي دوران کې په ډېر اخلاص قرباني ورکړه، ځان، مال، اولاد او هرڅه یې تر مجاهدینو او د دین لپاره قرباني کړل، همدارنګه یې ګډونوالو ته وویل چې د ملت عام خلک ۴۰ کاله جګړو ځپلي، ډېری یې د محاکمو په اصولو پوه کړئ او د غونډې ګډونوالو ته د استیناف محکمې رئیس د تمیز عالي مقام او د سترې محکمې د معاونیت قضائي لخوا د قضاتو کرامو د تبدیلۍ ترتیب شوی نوم لړ اعلان کړ.

د یادې تبدیلۍ په رابطه د جنوب غرب زون د تمیزعالي مقام او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د مکتوب متن په لاندې ډول دی.

د هلمند ولایت په محاکمو کې د جنوب غرب زون د تمییز عالي مقام عمومي رئیس او د سترې محکمې معاون شیخ الحدیث مولوي سردار محمد (ابوالفیضان) (حکم ):

ـ مولوي موسی کلیم د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان امنیت عامه سابقه مفتي د ښهري محکمې د دیوان مدني د رئیس په حیث.

ـ مولوي شهزاده د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ سابقه قاضي د ښهري محکمې د دیوان مدني د مفتي په حیث.

ـ مولوي عبدالحنان د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان ترافیک سابقه رئیس د ښهري محکمې د دیوان امنیت عامه د رئیس په حیث.

ـ مولوي سعید د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان امنیت عامه سابقه رئیس د ښهري محکمې د دیوان امنیت عامه د محرر په حیث.

ـ مولوي محمد ګل د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان ترافیک سابقه محرر د ښهري محکمي د دیوان امنیت عامه د مفتي په حیث.

ـ مولوي سراج الدین د هلمند ولایت د نادعلي ولسوالي سابقه د ښهري محکمې د دیوان ترافیک د رئیس په حیث.

ـ مولوي عبدالغفار د هلمند ولایت د نهرسراج ولسوالۍ سابقه مفتي د ښهري محکمې د دیوان ترافیک د مفتي په حیث.

ـ مولوي جلیل احمد د هلمند ولایت د ښهري محکمې سابقه عمومي رئیس د باباجي ولسوالۍ د محکمې د رئیس په حیث.

ـ مولوي عبدالناصر د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان امنیت عامه سابقه محرر د ښهري محکمې د دیوان ترافیک د محرر په حیث.

ـ مولوي مدثر د هلمند ولایت د باباجي ولسوالۍ سابقه قاضي د مارجې ولسوالۍ د محکمې د قاضي په حیث.

ـ مولوي دوست محمد د هلمند ولایت د مارجې ولسوالۍ سابقه قاضي د ښهري محکمې د عمومې رئیس په حیث.

ـ مولوي عبدالودود د هلمند ولایت د ښهري محکمې د دیوان ترافیک سابقه مفتي د ګرشک ولسوالۍ د محکمې رئیس په حیث.

ـ مولوي محمدابراهیم د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ سابقه قاضي د ګرشک ولسوالۍ د محکمې د مفتي په حیث .

ـ مولوي محمد آصف د هلمند ولایت د نوزاد ولسوالۍ سابقه مفتي د نوزاد ولسوالۍ د محکمې د قاضي په حیث.

ـ مولوي عبدالقیوم د هلمند د ښهري محکمې د دیوان مدني سابقه رئیس د نادعلي ولسوالۍ د محکمې د قاضي په حیث.

ـ مولوي عبدالسلام د هلمند ولایت د ښهري محکمې سابقه مفتي د نهرسراج ولسوالۍ د محکمې د مفتي په حیث .

ـ مولوي عبدالحی د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ سابقه مفتي د نوزاد ولسوالۍ د مفتي په حیث.

د الله تعالی له عالي درباره ورته په ورسپارل شوو دندو کې بریالیتوب غواړم.

یاده ناسته د اختتامیه دعا په ویلو سره پای ته ورسېده.

## رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ شهری ولایت تخار رسماً معرفی گردید

محترم الشیخ عبدالحمید (متوکل) رئیس پیشین محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی رستاق که حسب لزوم دید مقام عالی ستره محکمه امارت اسلامی تازه به صفت رئیس محکمهٔ شهری تخار تعین شده بود به روز شنبه مؤرخ ۲۵/ ربیع الاول سال ۱٤٤٤هـ ق توسط محتـــــــرم الحاج مولوی محمد صابر(حنفی) رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار به منسوبین آن محکمه معرفی و رسماً آغاز به کار نمود.

محفل معرفی رئیس محکمهٔ شهری تخار ابتداءً با تلاوت چندی از آیات کلام پر فیض الهی آغاز شد؛ سپس محترم حنفی صاحب رئیس محکمه مرافعهٔ تخار پیرامون اهمیت جایگاه قضاء صحبت نمود گفت که گرفتن وظیفه بخصوص وظیفهٔ قضاوت امتیاز نیست؛ بلکه مسؤولیت بسیار عظیم و سنگین است.

پس بر ما لازم است تا در حل و فصل شرعی قضایا احکام شریعت اسلامی و اصول و مقررات امارت اسلامی را در نظر داشته عدالت را تأمین و این مسؤولیت بزرگ را موفقانه انجام دهیم.

موصوف تأکید کرد که قاضی باید در انجام وظایف خویش تقوی را پیشه گیرد، با عزم راسخ در خدمت خلق الله قرار بگیرد و در ضمن در مورد پابندی به حاضری، حسن سلوک با اصحاب دعاوی و رعایت نظم و نظافت نیز تأکید صورت گرفت.

در اخیر محترم شیخ عبدالحمید (متوکل) رئیس جدیدالتقرر محکمهٔ شهری تالقان و هیئت محترم قضائی آن محکمه نیز از شفافیت در اجراآت، تأمین عدالت و حل و فصل به موقع قضایای وارده اطمینان داده‌اند.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۵**

**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۲ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د دیارلسمې (۱۳) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د اعضاوو په ګډون د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یاد مجلس په آجنډا کې اوله موضوع داسې وه: ((په مرکز او ولایتونو کې د محاکمو منسوبینو ته د کار په وخت کې میلمانه او یا هم عارضین مراجعه کوي چې له امله یې د منسوبینو د کار وخت ضائع کېږي، په دې اړه چې څنګه وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق د لومړۍ پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسې هدایت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو او د سترې محکمې مربوط ریاستونو ټول کارکونکي خصوصاً قضائي اعضاء دې په رسمي وخت کې د میلمنو او عارضینو سره ملاقات نه کوي عارضین دې یواځې د مستقلې فیصلې او د واقعي ضرورت په صورت کې راغواړي.

د دارالانشاء عمومي ریاست دې دغه موضوع په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته واستوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب لومړۍ پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۶**

**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د دیارلسمې (۱۳) نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د اعضاوو په ګډون د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د یاد مجلس په آجنډا کې نهمه موضوع داسې وه: ((د سترې محکمې مربوطه ابتدائیه، مرافعه، نظامي محاکمو، تمیزونو د دیوانونو او مرکزي ریاستونو د قضائي منسوبینو او اداري کارمندانو د حاضرۍ د کنټرول په باره کې چې څنګه ترتیب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق د نهمې پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسې هدایت وکړ:

((د محاکمو د کاري وخت د تعین په باره کې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر(۴۹۴ج۱) مورخ۱۴۴۳/۹/۲هـ ق چې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر(۱۴) مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۱هـ ق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی، د هغه مطابق، د سترې محکمې د تمیزونو، مرکزي دیوانونو، مرکزي ریاستونو، د هرې محکمې او هر دیوان رئیسان صاحبان مکلف دي چې د هجري لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، د شنبې څخه تر چهار شنبې هر سهار په اتو (۸) بجو او ماپښین په څلورو (۴) بجو او د پنج شنبې په ورځ د سهار په اتو بجو او د ماپښین په یوه بجه، د هجري لمریز کال په دوهمو شپږو میاشتو کې د شنبې څخه تر چهار شنبې د سهار په اته نیمو (۸:۳۰) بجو او د ماپښین په درې نیمو (۳:۳۰) بجو، د پنج شنبې په ورځ د سهار په اته نیمو(۸:۳۰) بجو او د ماپښین په یوه نیمه (۱:۳۰) بجه د حاضرۍ کتاب وګوري.

همدارنګه د روژې په مبارکه میاشت کې د شنبې څخه تر پنج شنبې د سهار په اتو(۸) بجو او د ماپښین په یوه (۱:۰۰) بجه د حاضرۍ کتاب وګوري که د ده مربوط کوم ملګری د سهار په اول وخت کې یا د ماپښین په اخیر وخت کې په ټاکلي وخت حاضر نه وي حاضري دې ورته قید کړي که کوم رئیس داسې ونه کړي نو امارت او الله تعالی ته به مسؤول وي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب نهمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق شرعي او اصولي اجراآت ترسره شي.

پاتې برخه ٤

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت ( میدان وردگ) از تاریخ ۱۴۴۴/۳/۱۵ الی ۱۴۴۴/۳/۳۰




شامل اجراآت دواوین مرافعه، آمریت وثایق، محکمه ابتدائیه شهری، محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۵۹)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً ( ۵۰۹) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً (۵۶۸ )دوسیه میشود.

از آن جمله ( ۴۲) دوسیه مکتوبی (۹۰) دوسیه قرار قضائی و پیرامون (۱۹) دوسیه فیصله صادر گردیده و (۴۱۷) دوسیه تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزایی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۱۶)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً ( ۹۱) دوسیه تحت دوران قرارداشت که مجموعاً ( ۱۰۷)دوسیه میشود.

از آن جمله ( ۱۹) دوسیه مکتوبی ( ۹) دوسیه قرار قضائی و پیرامون (۲۰) دوسیه فیصله صادر گردیده و ( ۵۹) دوسیه تحت کارمی‌باشد .

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ۱)دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی که قبلاً هیچ دوسیه تحت دوران وجود نداشت و این دوسیه تحت کار می باشد.

و همچنان به تعداد (۶۲) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان امارت اسلامی افغانستان قیمت اخذ نگردید.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۷
**نېټه:۲۴ /۱۴۴۴/۳ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق چي د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د دیارلسمي (۱۳) نیټې سره سمون خوري ،د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د یاد مجلس په آجنډا کي لسمه موضوع داسي وه: ((د محاکمو هغه کارکونکي چي کور او د وظیفې ځای یې سره لیري وي، په دغه اړه چي څرنګه ترتیب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق د لسمي پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسي هدایت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو او د سترې محکمې مربوط ریاستونو ټول کارکونکي خصوصاً قضائي اعضاء مکلف دي چِ د خپل مسؤلیت په نژدې ساحه کي د کور ترتیب برابر کړي تر څو په دغه ترتیب سره د خلګو د موضوعاتو د حل او فصل د ځنډ مخنیوی وسي.

آینده کي به یو ملګری هم د مسافرۍ په شکل کي نه وي او کوم څوک که د کور د نه راوستلو لپاره عذرونه وایې عذرونه یې قابل قبول نه دي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب لسمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغه مطابق شرعي او اصولي اجراآت ترسره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۸
**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۶ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق چي د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د دیارلسمي (۱۳) نیټې سره سمون خوري ، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه، د یاد مجلس په آجنډا کي دریمه موضوع داسي وه: ((په مرکز او ولایتونو کي د حقوقو او څارنوالیو څخه محاکمو ته داسي دوسیې رااستول کیږي چي هیڅ عارض نه لري، په دې اړه چي څرنګه وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق د دریمي پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسي هدایت وکړ: ((د عدلیې وزارت او لوی څارنوالۍ دواړو ته دې مکتوب واستول شي تر څو خپلو ټولو د حقوقو ریاستونو او څارنوالیو ته هدایت وکړي چي له دې وروسته دې محکمو ته یواځې هغه دوسیې رااستوي چي عارض ولري، او کومې دوسیې چي عارض نه لري هغه دې نه رااستوي ځکه؛ د اداري اصولنامې د (۱۸۸) مادې مطابق، هغه دوسیې چي عارض نه لري محاکم اصولاً اجراآت نشي پر کولای.

کومې دوسیې چي عارض نه لري او محاکمو ته رااستول شوي دي، هغه دې بېرته مربوطه حقوقو ریاستونو او څارنوالیو ته واستول شي او هم دې محاکمو ته خبر ورکول سي چي یواځې هغه موضوعات اخلئ چي عارض ولري.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب دریمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

یادونه: پورته ذکر شوی هدایت د مکتوب نمبر(۶۰۰) مورخ ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق په توسط د عدلیې وزارت ته او د مکتوب نمبر(۶۰۱) مورخ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق په توسط لوی څارنوالۍ ته استول شوی دی تر څو خپلو ټولو د حقوقو ریاستونو او څارنوالیو ته یې واستوي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۹
**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۷ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق چي د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د دیارلسمي (۱۳) نیټې سره سمون خوري د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د یاد مجلس په آجنډا کي څلورمه موضوع داسي وه: ((د ټولو محکمو مفتي صاحبان به د فیصلې د تائید ، نقض لپاره مستقله فتوی لیکي او که نه؟ که چیري د فیصلو د تائید او رد لپاره فتوی لیکل ضرور وي نو آیا په دغه فتوی کي به د تائید او رد دلائل هم لیکي او که نه؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹ هـ ق د څلورمي پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسي هدایت وکړ: ((د ټولو محکمو او دیوانونو مفتي صاحبان به د هري فیصلې د تائید ، نقض او مستقلي فیصلې لپاره فتوی لیکي، په دغه فتوی کي به د تائید په صورت کي د تائید او د رد په صورت کي د رد دلائل په تفصیلي ډول لیکي، همدارنګه د مستقلي فیصلې په صورت کي به مدلله او واضح فتوی د حنفي مذهب د راجح قول مطابق لیکي.

همدارنګه د یاد مجلس پنځمه پریکړه داسي وه: ((دارالانشاء عمومي ریاست دي د سترې محکمې مرکزي دیوانونو او د مربوطه ولایتونو د استیناف او ابتدائیه محکمو مفتیانو صاحبانو ته د دوسیو د کتلو او ثبت لپاره په پښتو او دري ژبو جدول ترتیب کړي او ټولو محکمو ته دي په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب څلورمه او پنځمه پریکړه او ورسره مل په پښتو او دري ژبو ترتیب شوي یاد جدولونه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۳۰
**نېټه: ۱۴۴۴/۳/۲۹ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۴/۳/۲۳ هـ ق چي د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د میزان میاشتې د اووه ویشتمي (۲۷) نیټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضاة محترم الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه، د یاد مجلس په آجنډا کي شپږمه موضوع داسي وه: ((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۲/۴ هـ ق په دریم جزء کي هدایت شوی وو چي (د فیصلو د تطبیق امر د تمیز لخوا ورکول کیږي او د تمیز عالي ریاست به په خپل مکتوب کي د هغه مرجع تعین کوي چي فیصله د تطبیق لپاره ورته استوي او په دغه ترتیب کي چي کوم ځنډ مخ ته راځي د هغه د مخنیوي لپاره پر حل لاره غور وکوو.)

بناءً د تمیز لخوا د دغه فیصلو د تطبیق په امر ورکولو کي چي کوم ځنډ راځي د هغه د مخنیوي لپاره چي څنګه وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۱۱) مورخ ۱۴۴۴/۳/۲۷ هـ ق د شپږمي پریکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسي هدایت وکړ: ((د ابتدائیې، استیناف او نظامي محاکمو هغه فیصلې چي په ابتدائیه او استیناف مرحله کي قطعي کیږي هغه دي د اجراء د امر تر لاسه کولو لپاره تمیز ته نه رااستوي خپله دي تطبیقوي تمیز ته په استولو کي د کتلو او تطبیق لپاره کومه فایده نشته ځکه قطعي فیصلې تمیز نه لري او اصولاً یې تمیز نسي کتلای او بل د قطعي فیصلو په تطبیق کي ځنډ واقع کیږي.

د زونونو نظامي محاکم دي د خپلو قطعي سویو فیصلو د اجراء مکتوب پر مربوطه مرجع ورکوي، ابتدائیه دي د خپلو قطعي فیصلو او مرافعه دي د خپلو قطعي فیصلو د اجراء مکتوب پر مربوطه مرجع ورکوي یواځي د خبرتیا لپاره دي یادي محکمې د خپلو قطعي سویو فیصلو کاپیانې اړونده تمیز ته استوي.

یادونه: هغه فیصلې چي یواځي د وخت تیریدلو په سبب قطعي سوي وي د اجراء مکتوب ورکول یې د ابتدائیې او مرافعې صلاحیت نه دی، مربوطه د تمیز ریاست که قابل تطبیق وبلل د اجراء مکتوب به ورکړي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب شپږمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کي شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

میزان
د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳